سلام!

## WORKNET DUPAGE (ورکنېټ ډوپیج)
## ته ښه راغلاست

**مونږ څوک یو**

مونږ د الینوا د DuPage کاونټۍ Workforce Development (د کاري ځواک وده) دفتر یو. زمونږ لومړۍ موخه دا ده چې د کار غوښتونکو اړیکه د هغه سرچینو، د کار موندنې ستراتیژیو، او د کار د مهارتونو سره ونیسو چې زمونږ د ځایي اقتصاد د کار د زیات غوښتل کېدونکو ساحو دپاره اړین دي. د دې کولو سره، مونږ ځایي کاري ځواک او سوداګریزې ټولنې پیاوړې کوو او په ورته وخت کې اوسېدونکي - په ګډون د ځوانانو او هغو چې د کار موندنې په لړ کې مهم خنډان لري - د مهمو کسبونو او اقتصادي ټینګښت په لټون کې ځواکمنوو.

**مونږ څنګه مرسته کوو**

مونږ د کار غوښتونکو سره په بېلابېلو لارو مرسته کوو. زمونږ ډېرې خدمتونه د عامه خلکو دپاره ته خلاص او ترلاسه دي، او نور یوازې د وړتیا لرونکو دپاره ترلاسه وي.  مونږ کار غوښتونکو ته دا لاندې لومړي خدمتونه وړاندې کوو:

1. **وړیا، عامه خلکو دپاره خلاص ورکشاپونه، پېښې، او سرچینې**
   مونږ د کار موندنې په بېلابېلو سکالو، لکه د ژوند لنډلیک لیکل، مرکه کول، د کار د غوښتنلیک ټیکنالوژۍ، د کارمندانو حقونه، او داسې نورو په اړه میاشتنۍ مالوماتي غونډې او ورکشاپونه کوو.
   مونږ د کار ګومارونکي په مشرۍ کې د پېښو او په کار د ګومارلو د غونډو کوربه توب هم کوو. په شته سرچینو کې د کارونو آنلاین بورډ، پرځای کمپیوټر او پرنټر ته لاسرسی، او د زېرمې وړ، دفتر ته ورته د خواري کښو د یوځای کېدو کوټې شاملې دي.

2. **د *وړتیا لرونکو خلکو دپاره* د کار موندنې جدې غونډې او مسلکي سلا**
   مونږ وړتیا لرونکو خلکو ته د مخامخ مسلکي لارښوونې سره د کار موندنې تفصیلي مالوماتي غونډې وړاندې کوو.

3. **د *وړتیا لرونکو خلکو دپاره* د روزنې او زده کړې دپاره مالي مرستې**
   هغه خلک چې د لوړې کچې کار دپاره اړین مهارتونه، تصدیق نامې، یا زده کړه نه لري کېدی شي په دغه ساحو کې د کار وړ کېدو دپاره د مالي مرستې ترلاسه کولو وړتیا ولري. زمونږ دفتر د وړتیا لرونکو خلکو سره د دې ټولې پروسې په اوږدو کې مرسته کوي، چې پکې ارزونه، د کار او د روزنې پلاننګ، میاشتنې پرمختیایي راپورونه، او په کار کې د بریا وروستو منظمې وروستنۍ کتنې شاملې دي. کېدی شي وړتیا لرونکي خلک تر د $10,000 دپاره منظور کړل شي څو د منظور شوي روزنیز پروګرامونو لګښت ورکړي.

**راتلونکي ګامونه**

1. که تاسو زمونږ په وړیا، د عامه خلکو دپاره پرانستي ورکشاپونو یا پېښنو کې د ګډون کولو لېوالتیا لرئ، نو مهرباني وکړئ پر www.worknetdupage.org زمونږ وېبپاڼه وګورئ، څو زمونږ د راتلونکو پېښنو په اړه نور مالومات ترلاسه کړئ. د ژباړونکي خدمتونه ترلاسه دي.

2. که تاسو د وړتیا لرونکو خلکو دپاره د مالي مرستي خدمتونو په اړه زده کړه کولو کي لېوالتیا لرئ، لکه مخامخ مسلکي خدمتونه یا بسپنه کېدونکي روزني، نو مهرباني وکړئ زمونږ د وېبپاڼه له لارې دا فورمه ډکه کړئ:

مهرباني وکړئ یاد ولرئ چي که څه هم مونږ د ډېرى بېلابېلو شالیدونو سره اړه لرونکو د ډېرى بېلابېلو خلکو اړتیاوې پوره کوو، د روزني دپاره د مالي مرستو په ګډون، د ځینو خدمتونو دپاره د وړتیا معیارونه پلي کېږي. د workNet DuPage مالي مرسته په لومړي ډول د WIOA، د کاري ځواک د نوښت او فرصت قانون له خوا کېږي. خدمتونه په ځانګړي توګه د DuPage کاونټۍ اوسېدونکو پوري محدود دي.

کېدی شي تاسو زمونږ د خدمتونو  وړتیا ولرئ که تاسو یئ:

1. په متحده ایالتو کي د کار کولو پرېښنله لرونکي، او
2. بې کاره یا کم کار کوونکي
- د بې کاره کېدو بیمه ترلاسه کوئ (یا مو په دې وروستیو کې ترلاسه کړې وي) یا
- عامه مرسته لکه SNAP، TANF، Refugee Assistance، او داسې نور ترلاسه کوئ (یا مو په دې وروستیو کې ترلاسه کړې وي)

کله چي تاسو غوښتنلیک ډک کړئ، نو مونږ به د نویو ګامونو په سر خبرې کولو دپاره ستاسو سره اړیکه نیسو. د ژباړونکي خدمتونه به ترلاسه وي.

**مونږ به چیرې مومئ:**

workNet DuPage
2525 کیبوټ ډرایو
لایل، IL 60532
630.955.2030
www.worknetdupage.org

**د کار غوښتونکو اضافي سرچینې (Skill Up DuPage)**

زمونږ دفتر د دندې/کار غوښتونکو د ملاتړې شبکې یوه برخه ده چې په DuPage کاونټۍ کې شتون لري. د خپلو ځانګړو اړتیاو دپاره خورا غوره خدمتونه کارولو کې د اوسېدونکو سره د مرستې کولو دپاره، مونږ یوه سرچینه رامنځته کړې ده، Skill Up DuPage، څو دا شبکه په یوه مناسبه ټوله کې وښایو.

زمونږ د Job Seeker Resources Google Map سره اړیکه ونیسئ څو په DuPage کاونټۍ کې د Skill Up سرچینو ځایونه ومومئ: